پوهاند بشیر احمد زکریا ۲۰۱۹/۰٤/۲۹

# د افغانستان دائمی بیطرفی

## خـبـړنیزه رساله

لیکوال: بشیر احمد زکریا – مترجم: رحمت آریا

**څلورمه برخه**

# درییم څپرکی

## د هغو اتکلونو د تېنګښت لپاره تأريخي مالومات چې که افغانستان په راتلونکي کې په آسيا کې د سويټزرلند په شان دائـماً بی طرفه سي

ډېري تأريخ پوهان او علما که په څرګنده نۀ وي خو په ضمني ډول په دې خبرې له يو بل سره همغږي دي چې تېرې او پخوانی پېښې او پر ورانديز ئی د خلکو غبرګونونه کولای سي په اوسمهال کې او يا هم په ورته شرايطو کې په راتلونکي مهال کې له موږ سره ددوی د کړو وړو او سلوک په پوهېدلو او درک کولو کې مرسته وکړي. همدغه نظريه د رواني طب څېړنو، د خلکو د يوې ډلې او هم د يوې ټولنې د ډېرو وګړو سايکولوژی، د هغوی د سلوک او پخوانيو کړو وړو پر بنسټ تائيد کړې ده. ښايي د رواني طب يو ډاکټر په تير مهال کې په ځانګړو شرايطو کې د يوۀ فرد د سلوکي غبرګونونو په پوهېدلو وکولای سي د يوۀ حالت يا پېښې پر وړاندې د همدغۀ فرد د غبرګون په باب وړاند وينه وکړي؛ خو د يوۀ ملت يا يوۀ دولت د غبرګون وړاند وينه ښتته ډېره ګرانه ده. د يادو سويو خبرو په ويلو سره سره بـيا هم هيڅ څوک نۀ سي کولای له هغۀ تير مهال او هغۀ عملي ادراک څخه انکار وکړي چې په تأريخي پېښو کې له څېړنو او د هغوی له منسجمو پايلو څخه ترلاسه کېږي. له همدې کبله که په شلمې پېړۍ کې د جورج سنتايانو *George Santayana* خبره «هغوی چې نۀ شي کولای تير مهال په ياد ولري، هرو مرو په تکرار يِی محکوم دي» او يا په نولسمې پېړۍ کې د «ادمند بورک *Edmund Burke* » خبره «هغوی چې په تأريخ نۀ پوهېږي، نو له شک پرته چې په برخه ليک کې ئی تکرار ليکل سوی» په پام کې ونيسو نو موږ بايد دا اقوال د يوۀ متعارف اصل په توګه ومنو. زما په باور، کله چې د «افغانستان د دائمي بېطرفی» په باب بحث کوو نو راځئ د بېطرفی به باب سويټزرلند له افغانستان سره پرتله کړو ځکه د سويټزرلند بېطرفي د وخت په لمن کې يو آزمويل سوی زرين معيار دی؛ له بله پلوه افغانستان او سويټزرلند په آسيا او اروپا کې يو بل ته ورته جغرافيوي موقعيت لري.

## د سويـټـزرلند د «بې طرفی» لنډ تأريخ

ډېري پوهان په دې باور دي چې که سويـټـزرلند خپله دوديزه بي طرفي نه درلودله نو هيڅکله به د يوۀ خپلواک، يو موټي او آزاد ملت په توګه پاتې نـۀ وای. په منځنی اروپا کې ښايي لومړنيو ايندو – اروپايي بشري ټولنود ۱۳۰۰ م. ز. کلونو په شا و خوا کې استوګنه کړي وي. لرغونپوهان د آلپ د غرونو وګړي د «کنګل سوي Iceman» «اوتزي *Ötzi*» سړي يوه بـېلـګه ګڼلي دي. د ۳۰۰ تر ۱۰۰ م. ز. کلونو په شاو خوا کې د «سويس د لوړو» او د «تيسينو Ticino» په جغرافيوي چاپيريال کې «سلتيک Celtic» وګړو چې په «ګالس Gauls» ژبه ئی خبرې کولې استوګنه پيل کړه يعنی: «هِلويتي Helvetti» او «ويندېليسي Vindelici» قومونه د سويس د لوړو په ختيځو او لويديځو برخو کې او «ليپونـتـی Lepontii» قومونه د «لوګانو Lugano» په سيمو کې استوګن سول. غير « سلتيک رايتيان non-Celtic Raetians» قومونه د ختيځ سويـټـزرلند د دَرو په منځ کې استوګن سول. لرغونپوهانو اکثريت يادې شوې سيمې د «له تينا La Tèna» د ښځو سويو فرهنګي پانګو په لړ کې مونډلي دي.

په پينځلسم مخزېږدېز کال کې وروسته له دې چې د جوليس سيزار [Julius Caesar] «قيصر» لښکرو له سويس څخه منفي ځواب تر لاسه کړ نو د قيصر جنرالانو هر يوۀ «*تايبريس* *Tiberius* او *درسوس* *Darsus*» د آلپ غرونه او اړوندې سيمې ونيولې او هغه ئـې د روم د سترواکۍ برخه وګرځولې.

د روم د سترواکۍ په وروستي پړاو کې ددې سيمې تنصير «عيسوي جوړول» پيل او د ميلاد تر څلورمې پېړۍ پورې ئـې دوام وکړ. د لويديځ روم د سترواکۍ له ړنګېدلو وروسته ول چې جرمانيکو قومونو د آلپ غرونو ته کډه وکړه. له پينځه سوم تر نهه سووم زېږدېز کال پورې فرانکانو هم دې لورې ته کډه وکړه. د فرانسې شارلمان په پياوړي سلطان بدل سو، کله چې شارلمان په روم کې د سلطنت تاج پر سر کښېښود، نو د لرغوني روم د سترواکۍ د بيا راژوندي کولو تکل ئـې وکړ او د«سويزي Schwyz » يا «سويټزرلند Switzerland» ټاټوبی چې د «هِلواتيانو Helvatian» په نامـۀ يادېدۀ د خپلې سترواکۍ برخه ئـې وګرځاوۀ. د شارلمان له مړينې وروسته د هغـۀ ناغيـړن او نا اهله زامن په خپلو منځو سره ونښتل، يوۀ ئـې فرانسه، بل ئـې ايټاليا او دريم ئـې جرمني په خپلو منځو کې سره وويشله. د هلواتيانو ټاټوبی په پای کې د جرمني د سترواکۍ يوه برخه سوه. په ډېريو دغو سيمو باندې جرمن ګورنرانو «نائب السطنه وو» تر ۱۳۰۷ز کال پورې د خپلو سلاطينو په استازيتوب واکمني درلودله، کله چې درو واړو دَرو د ۱۳۰۷ز کال د نوامبر د مياشتې په اوولسمې نېټې د غونډې نوښت په لاس کې واخيست نو د همدې نـېټـې په شپه ئـې ځانونه خپلواک او مستقل انسانان اعلان کړل، د هلواتيانو د قوم ۳۰ تنو استازو د «روتلي Rutli» په ورشو ګانو کې ورسره يو ځای سول. سره له دې چې دوی په يوۀ غږ ژمنه وکړه چې د خپلو ګورنرانو او سردارانو حقوقو ته به درناوی ولري خو ګورنر «*هرمان ګسلر* *Hermann Gessler*» ددوی په دې نيت باندې يو څه شکمن وو، نو ددوی د رښتوني نيت د آزمويلو لپاره ئی امر وکړ چې د «اوري Uri» په ښار کې دې د يوې دنګې ستنې پر سر د آستريا ددوک خولۍ کښېږدي او رعيت دې د دوک خولۍ ته د سلام په ورکولو، خپل درناوي څرګند کړي. په دې مهال يو خورا نامتو غېشی ويشتونکی «ويليم تِل William Tell» هم تـېرېـدۀ، ويليم تل د ستـنې له څنګه په تـېرېدلو، خولۍ ته درناوی ونـۀ کړ! نوموړی د سترګو په رپ کې د ګورنر ګسلر مخې ته ودرول سو، ګسلر ورته په قهرژلي غږ وويل : «لړاک او سپين سترګيه غـېشي ويشتونکيه! زه به اوس تا ته ستا په خپلو وسايلو جزا درکړم، يوه منـۀ به ستا د وړوکي ماشوم پر سر کښـېږدم، لاړ سه په خپل غـېشي دې همدا منه وولـه! هو، پام کوه چې غـېشی دې درڅخه په خطايي کې بل څه ونـۀ ولي!» سرتيرو وړوکی ماشوم په يوې ونې پورې وتاړۀ او يوه منـۀ ئـې پر سر ورته کښېښودله او ويليم تل ته ئـې وويل : تـۀ به له ونې دومره لـېرې ودرېږې چې د نښې يو بڅرکی هم ونـۀ سې ويشتلای! غـېشی د ماشوم پر لور چې د کب شان په لړزېـدو وو له ليندۍ والوت، او منـه ئـې دوه ټوټې کړه. د خلکو له منځه غرځ د خوښۍ غږ او شور راپورته سو. ګسلر ويليم ته وويل: «ولې دې دويم غـېشی د غـېشو له کڅوړې دباندې را وايست؟» ويليم په ځواب کې وويل، «که لومړنی غـېشی په منې نـۀ وای لګـېدلی نو په داده زړۀ درته وايم چې دا دويم هغـۀ به ستا زړۀ در سوری کړی وای!» ګورنر ګسلر له ځان سره عاقلانه فکر ونـۀ کړ او ويليم ئـې ځکه بندي کړ چې د «اوري» د سيمې د نامتو غـېشي ويشتونکي له پاڅون او اله ګولې څخه بـېرېدۀ. نو ځکه ئـې په بيړه بندي ويليم تل له ځان سره واخيست او سره له دې چې ډېـر توند باد چلـېدۀ په کښتۍ کې کښـېناست او يو ناڅاپه وخوځـېد. هر څومره چې کښتۍ په توپاني اوبو کې وړاندې تلله، شيبه شيبه د توفان د وحشت لمنه هم پراخـېدله، کښتۍ د غرونو په منځ کې د روان رود د توفاني بهير په غـېږ کې خوځـېدله او هره شيبه ددې وېره وه چې له ګواښ سره مخامخ کښتۍ به يا د غرونو له رغړندو برخو او يا به د توپاني رود د لوړو څپو مړۍ سي. په دې

شیبه کې چې ګسلر د ډوبېدو وېرې پسې اخیستی وو امر وکړ چې ویلیم تل دې خلاص کړي او د کښتی د چلولو له متخصص سره دې د کښتی په چلولو کې مرسته وکړي. ویلیم تل د کښتی لاربشود مخامخ د رود پر غاړې د پراتهٔ ګټ خواته وڅرخاوهٔ او له کښتی ئې لاندې ټوپ وواهـهٔ؛ باد او توپان کښتی د رود د څپو منځ کې ورکه کړه. ویلیم تل د سویز د غرهٔ د رغړاندې ډډې پر لور پورته روان سو، د سویز د غرونو نوم وروسته په سویټزرلند واوښت. هر څومره چې ویلیم تل د غرهٔ ډډې باندې پورته کېدهٔ نو دا جدي افکار ئې په ذهن کې تاوېدل چې، «ددغهٔ ګرګر او مستبد د بلوساک او غضب له لاسه کومې خوا ته والوزم؟ ما خو ددهٔ له منګولو تېښته وکړه خو زما ښځه او ماشوم زما په کور کې ددهٔ په لاس کې یرغمل دي. په یاد مې راځي کله چې ددهٔ یوهٔ نواب د لندنبرګ د «مِلشتل *Melchthal*» په سیمې کې د یوهٔ بوډا سترګې له ګاټو په دې ګناه وایستلې چې نوموړي بوډا د هغـهٔ د یوهٔ مزدور ګوته ماته کړې وه نو په خپله ګسلر به زما له کورنی سره څه وکړي؟ کله چې قانون واکمن نـهٔ وي نو ګسلره بل څوک به زما او ستا تر منځ قضاوت وکړي؟ اوس هم زه او هم تـهٔ دواړه بې قانونه یو، زما او ستا تر منځ یوازینی قاضی د ځان ساتنه ده. یا به زما بې ګناهه میرمن او ماشوم او زما پلرنی ټاټوبی دړې وړې سي او یا به ګسلره تا ، هو تا! دړې وړې او آزادي به واکمنه کړم. [١]»



د لسمو او دیارلسمو زېږدېزو پېړیو په اوږدو کې د کارولینجي Carolingian Empire ستر واکی له ړنګېدلو وروسته د سویس کنفدراسیون رامنځته سو. سره له دې چې د ۱۴۳۶ – ۱۴۵۰ز کلونو په لړ کې د سویس پرګنو د کنفدراسیون پر لور د خوځښت په لاره کې کړلیچنه انقلابي لاره د کړاوونو په ګاللو ووهله، بیا ئې هم وکولای سول شمالي او ختیځې سیمې ونیسي او د آ ستریا ستر واکی ته ماته ورکړي او د ختیځ جرمني د **شهزادګانو له ماتولو وروسته د پینځلمسی پېړی په ترڅ کې د ډېر اقتدار په تر لاسه کولو ئې په اروپا کې د یوهٔ ځواکمن دولت په ډول سر راپورته کړ. په**

---

١ - Zschokke, Heinrich. The History of Switzerland for the Swiss People. Chapter Xii. “William Tell and the Three Men in Rutli”, A.D. ١٣٠٧; Wallachia Publishers; New York, NY: ٥٣-٥٦ Published ١٨٥٥ & ٢٠٠٥

**شپاړلسمې پېړۍ کې ول چې د سویس خلک له بې ساري پوځي اعتبار او پرستيژ څخه برخمن سول او د اروپا په وچه کې د خپل سياسي ځواک وروستۍ کچې ته ورسېدل.** [۲] د سويس کنفدراسيون په ۱۵۱۵ز کال کې د «مَرینیانو Marignano» په جګړې کې له ماتي خوړلو وروسته په داسي حال کې چې هڅه ئي کوله فرانسويان د ايټاليا له شمال څخه وشړي، اړ سو چې مشران ئي په زړهٔ نا زړهٔ ډول سولي ته غاړه کښېږدي. له دې سره سره چې سويسيانو د کښت او کرکيلي لپاره ځمکه نهٔ درلودله او نهٔ ئي په کافي اندازې طبيعي سرچيني درلودلې بيا هم وتوانېدل چې غرنۍ لارې په خپله ولکه کې وساتي او فرانسي ته د مزدورو جنګياليو د ورکولو په بدل کې د فرانسي سبسايدي تر لاسه کړي. له دغهٔ مهال وروسته سويسيانو د کومې سيمې د نيولو په موخي لښکرې را ونهٔ ايستلې او له فرانسي سره ئې کوم تعرضي او يا هم دفاعي ائتلاف جوړ نهٔ کړ او په ۱۶۶۳، ۱۷۱۵ او ۱۷۷۷ز کلونو کې ئې دغه د نهٔ ائتلاف تړون نوی کړ[۳].

سويس د لومړي ځل لپاره د «بې طرفۍ» اصطلاح په شپاړلسمې زېږدېزې پېړۍ کې په کار يووړله. خو په دې لړ کې سويسيانو د خپلو کاتوليکو او پروتستانتو کانتونونو «ولايتونو» يعنی د کاتوليکانو او پروتستانتانو ترمنځ دېرش کلنه جګړه له «۱۶۱۸ تر ۱۶۴۸ز» پورې پر مخ يووړه او په خپلو منځو کې سره ونښتل؛ په دې ترڅ کې د سويس کنفدراسيون خپله باندنی پاليسي د بې طرف سياست پر بنسټ تر لاس لاندې ونيوله او په دې ډول سويس چې د کورنيو مذهبي جګړو له کبله د ټوټې ټوټې کېدلو له ګواښ سره مخامخ وو وژغورل سو؛ له دې وروسته که په اروپا کې نورې جګړې پېښې هم سوې سويس خپله بې طرفي وساتله. په ۱۷۹۸ز کال کې ول چې د ناپيليون لښکرو پر سويس يرغل وکړ او ژنوا ئې له خپلي خاورې سره ونښلوله او د فرانسي د جمهوريت په څېر ئې د « هلوتي جمهوريت Helvetic Republic » جمهوريت اعلان کړ. په دې توګه سويټزرلند د فرانسي په لاس کښېنولي يا قمر واوښت او خپل دودېز د بې طرفۍ سياست ئې شا ته پرېښود. خو په ۱۸۱۳ز کال کې د ليپزيک Leipzig په جګړې کې د ناپيليون له ماتي وروسته د آستريا، پروس او روس لښکرو، سره له دې چې د سويس مرکزي دولت خپله بې طرفي اعلان کړې وه، پر ټول سويس يرغل وروړ. د ۱۸۱۴ – ۱۸۱۵ز کلونو په لړ کې کله چې په ځپاندې او کړکيچني اروپا کې د ځواک انډول د راوستلو په موخه د ويانا کنفرانس جوړ سو؛ په دې کنفرانس کې د سويس قانوني وضعيت د کنفرانس د آجندا بنسټيز ټکی سو. د ۱۸۱۵ز کال د مارچ د مياشتي شلمه وه چې د ټلوالي ځواکونو په څرګنده خپل نيت په ډاګه کړ او وئې ويل چې سويټزرلند دې دا دائم لپاره بې طرفه سي. په کنفرانس کې سويټزرلند د خپلو پولو په هکله چې فرانسي مخکې له مخکې ژنوا او «نو شه تِل Neuchatel» او يو شمير نورې سيمې د ناپيليون د جګړو په لړ کې له خپلي خاورې سره يو ځای کړې وې د وضاحت غوښتونکی سو. کله چې ناپيليون له «اِلبا Elba» څخه وتښتېد او په پاريس کې راڅرګند سو د کنفرانس رواني خبرې اترې يو ناڅاپه په ټپه ودرېدلې. له سويس څخه وغوښتل سول چې د ټلوالي ځواکونو ته دې اجازه ورکړي ضمانت ورکړی وو، د سويس «دايت Diet» يا «جنرال اسامبلې» د سويس د خاورې نيول په دې شرط ومنل چې د چې

² - Ditto. The History of Switzerlands for the Swiss People.
³ - Sherman, Gordon E, “Neutrality of Switzerland,” The American Journal of International Law ١٢, No.٢ (April ١٩١٨): ٢٤١; and Baumgartner, “Neutralization of States,” ١٢

د سويس له سيمو څخه تير سي. له دې چې تړوالي د سويس د دائـمي بې طرفی ژمنه او د سويس د ځمکنی بشپړتيا  تړوالي




ځواکونه دي له سويس څخه ووځي، د سويس د ځمکنی بشپړتيا او د «دائـمي بې طرفی» ضمانت دي وسي.

د ۱۸۱۵ز کال د نوامبر د مياشتي په شلمي نيتي آستريا، ستري برتانيي، پروس، روسيي، فرانسي او پرتګال د سولي د دويم تړون په لړ کي د لاسليک کوونکو د ډلي لومړني هېـوادونه ول چې د سويټزرلند دائمي بې طرفي ئـي تصديق او د سويټزرلند « بشپړه ځمکنی بشپړتيا» ئـي رسماً ضمانت کړه.[٤] په دوی پسې د ډېر لنډ وخت په واټن کې سويډن او هسپانيه د لاسليک کوونکو هېـوادونو دويمه ډله کې راغلل. د ويانا د خورا زيات مهم کنفرانس له برياليتوبه وروسته سويس د خپلو سرحداتو وړتيا وښودله، سويس په لومړی او دويمې نړی والي جګړې کې خپل ټول پوځي ځواک د خپلو پولو د ساتلو په موخه چې شمير ئـي ۴۳۰۰۰۰ سرتيرو ته رسېـدۀ په خوځښت راووست، دا په خپله ددغـۀ هېـواد په دائمي بې طرفی کې د برياليتوب حياتي عنصر ګڼل سوی دی. په دې توګه سويسيان يو وخت د نړی نامتو جنګيالي وګړي ول خو اوسمهال هماغه جنګيالی پرګنې د نړی سوله پاله او سوله راوړونکي پرګنې دي. **د سويس «دائـمي بې طرفی» ته په کتو سره، د سويس پرګنې د تيرو ۲۰۰ کالو په اوږدو کې له تلپاتي سولې څخه برخمني دي؛ سويسيانو ته «دائـمي بې طرفی» دا وړتيا او ځواک ور په برخه کړی دی چې په نړی کې د لوړ سرانه عايد د «ناخالصو کورنيو توليداتو per capita GDP» په لړلو د نړی يو لوی بډای او شتمن هېـواد سي او نـېږدې ده چې له امريکا سره په اقتصادي ډګر کې غاړه په غاړه سيالي وکړي؛** د سويس توليدات د سپکو صنايعو د پرمختګ په ډګر کې دي لکه «کيمياوي محصولات، درمل، برقي ماشينري او وسايل، په ډېر ځير يا دقت د اندازه اخيستني وسايل، ساعتونه، ګاڼي، کرنيز محصولات، نقليه وسايط، منسوجات، څرمن، ربړ او پلاستيک.» تر ټولو مهمه دا چې سويسيان په نړی کې تر ټولو خوشحاله وګړي دي؛ **نن ورځ په نړی کې د خوشحاله ملتونو په کچه کې سويسيان له ناروې، ډنمارک او آيسلنډ وروسته څلورم خوشحاله او خوښ ملت ګڼل سوی دی.**

---

٤ - Cronin, AK.  A Sustainable Approach to Afghanistan’s Neutralization. Sustaining Security: Rethinking American Security Strategy, Eds. Jeremi Suri & Benjamin Valentino. Tobin Project. Oxford University Press. ٢٠١٦.

**ځومره ویاړ به د هغهٔ سړي په نصیب وي چي ووایي زه د سویتزرلند یم!**




"How proud is one who can to say I'm from Switzerland!"

د خلورمه برخه پای

نور بیا

تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با "کلیکی" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به "آرشیف" شان رهنمائی شوند.

د دی لیکنی د لمړی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_١.pdf
د دی لیکنی د دویمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٢.pdf
د دی لیکنی د دریمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٣.pdf

د افغانستان دائمی بیطرفی (خلورمه برخه)
zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٤.pdf